سپېڅلی بری ۲۰۱۶/۰۲/۱۶

طلوع نیوز ته سپینه خبره

طلوع نیوز ته، چې تل یې تر ملي ګټو د شمالي ټلوالي، جمعیت او ټوپکسالارانو ګټې مهمې بللې، قومي تفرقې ته یې لمن وهلې او د خپلو خپرونو له پیله تر ننه یې د پښتنو د ځپلو او د هغوی پر غږ غلي کولو کې له هیڅ ډول هڅې او پروګرام څخه دریغ نه دی کړی.
ځینې سُست مزاجه پښتانه یې هم په ننګه دي او دې نا خپلواکې او غیر ملي رسنۍ ته د افغانستان غږ وایي.
د پخواني ولسمشر حامد کرزي پر مهال مې یاد شي، چې نوموړي پاکستان ته سفر درلود،هلته ورسره د ګڼو خصوصي ټلویزیونونو خبریالان هم تللي وو، خو په اسلام آباد کې له پاکستاني چارواکو سره د خبرې کنفرانس پرمهال نوموړي د طلوع نیوز مایک ته په اشارې سره وویل، چې دا د افغانستان (جیو) دی.
ښایي، چې حامد کرزي به دا هېرکړي وو، چې همدې (جیو) ستا قوم او قومي ارزښتونو ته څومره سپکاوی کړی، په شینوارو او ځدرانو پسې یې څه ډول له سپکاوي ډک راپوروونه او اعلانونه خپاره کړل او د ځینو ویښو پښتنو مشرانو پر هڅو څنګه بېرته بښنې ته اړشو.
څه موده وړاندې یې بیا هم یوه فاشیست او له مسلکه ناخبره خبریال چې د نوم له اخیستلو یې تېرېږم، د سرحدونو او قبایلو چارو وزیر ښاغلی محمد ګلاب منګل د ډنډ غوري د قومي مشرانو او منګل ترمنځ د سولې لپاره د شوي هوکړه لیک په اړه مېلمه کړی و.
لومړی خو دې ژوندي پروګرام ته د ښاغلي منګل ورتګ او په جګه غاړه حاضرېدل، د دې مانا لري، چې په اصطلاح د چا په اوږو کې شګه نه وي، دا کار کولی شي او د خپلې خبرې لپاره منطق او ځواب لري، چې پروګرام یې دا ثابته هم کړه.
ګلاب منګل د پروګرام په جریان کې چې چلوونکي یې په فارسي لهجه پوښتنې کولې، ویاند ته په خپله ژبه قناعت ښوونکي ځوابونه ورکړل او د ډنډغوري موضوع یې ورته په زور او زېر تشریح کړه، له خبریال نه چې وار او پار خطا شول، نو شخصي مسایلو ته یې مخه کړه.
ښاغلي منګل ورته وویل، له بده مرغه چې ته په پښتو نه پوهېږې نو څنګه به د دې هوکړه لیک پر محتوا او زما په خبرو پوه شې، دا خو لاپرېږده چې په درې هم خبرې نه کوې، فارسي دې روانه کړې او څو کلمې یې دې لکه (واژه) او نورې چې ټولې فارسي دې زده کړې دي.
له دې خبرو سره د ویاند رنګ نور هم خړ شو او که یو آزاد او بې پرې کس هم خپرونه لیدلې وي، نو د خبریال له وارخطایي، تعصب، کرکې او مسلک نه لرې چلند به یې په اسانۍ درک کړی وي، چې هغه ته څه ورکړل شوي او غواړي چې کومه مسئله څنګه مطرح کړي؟ او د ښاغلي منګل پر شخصیت څنګه برید وکړي؟
په ننیو پښتنو چارواکو کې چې ډېرې یې د خپل مشر پرځای له طلوع نیوز نه زیات وېرېږي او طلوع ته چاپلوسي یې عادت ګرځېدلې، فکر کوي چې طلوع د هغه د شخصیت په لوړولو، مطرح کولو او برعکس خرابولو او لرې کولو کې مهم رول لري.
په دې پروګرام کې د ښاغلي ګلاب منګل سپینې خبرې او په نره ځواب ورکول، غټ جهاد دی، که له نوموړي سره هم د ځینو نورو غوندې د خپل مقام او څوکۍ مینه وای، نو طلوع نیوز ته به یې سر ټیټ کړی وای او په خپل لوېدلي قوم او ولس به یې پښه ایښې وه.
نن چې په هیواد کې خصوصي رسنۍ له بل هر وخت زیاتې شوې، نو ورسره د دې رسنیو پر وړاندې د خلکو درک او پوهه هم زیاته شوې او د خپرونو پر محتوا او پر هغو خپرونو یې چې له ملي ګټو سره ضد دي ښه پوهېږي، ټلویزیونونه باید د ډلو ټپلو، قومي تعصبونو او ګوند پالنې پرځای د ولس لمن ونیسي.
خو که چېرته دا کار نه کوي او غواړي، چې د هیواد یو قوم اوچت، سوله خوښې او بل ټیټ او جګړه مار وښیي، نو بیا د ګلاب منګل غوندې مشرانو په څېر ورته د سپینې خبرې نه کول به د پښتون د حق پر وړاندې ستره جفاوي.
مشران ښه متل کوي: یامېره شه او یا د مېره لمن ونیسه!

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ښايي منګل هم په ټولنيزو رسنيو کې د عامو خلکو او پښتنو ځوانانو له خوا افرين او ستاينو بدرګه شوی وي، چې له ريا او مطلب پرته يې ستايي خو نورو مشرانو ته هم دا سپارښتنه ده چې سپينه خبره وکړي او حق ووايي.

پای

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ